## د سواد مدني ټولنې اعلامیه

د پکتیکا د ښرنه ښار

د سواد مدني ټولنه له دولت څخه غوښتنه کوي چې پکتیکا ته دې هغه بریښنا چې له تاجکستان او ترکمنستان څخه افغانستان ته ورکړل شوي پکتیکا ته دې هم ورکړل شي او دولت دې دولایتونو ترمنځ توپیري چلند له منځه یوسي.

د بریښنا ټرون څو کاله مخکې شوی و، چې د هېواد ډیری ولایتونو ته یې د پایو د نصبولو او مزو غځولو کارونه بشپړ شوي او ډیری نورو ته لا هم ادامه لري.

د سواد مدني ټولنې غږي غوښتنه کوي چې د وارداتي بریښنا پایې او مزي دې پکتیکا ته هم وغځول شي ترڅو د دې ولایت اوسیدونکي هم احساس کړي چې افغان دولت غواړي پکتیکا ته کار وکړي او د هر ولایت اوسیدونکو ته خپل حق ورسېږي.

که پکتیکا ته وارداتي بریښنا نه لیږدول کیږي دا له ولایتونو سره توپیر چلند دی او موږ یې په مقابل کې په مدني حرکتونو لاس پوري کوو.

د یادونې وړده چې تر اوسه پورې پکتیکا ته هیڅ ډول وارداتي بریښنا نه ده لیږدول شوي او اوسیدونکي یې له شخصي جنراتورونو او لمریز نظام څخه ګټه اخلي

په درنښت
دسواد مدني ټولنې مشر محمدالله همت یار